# د بشري غبرګون پلان

۲۰۱۶

جنوري-دسمبر ۲۰۱٦

نوامبر ۲۰۱۵



انځور: اندریو کویلتی

# افغانستان

| تول وګړي | اړ وګړي | د مرستو لپاره په ګوته شوي وګړي | مالي اړتیاوې (امریکایي ډالر) | بشري مرستندویانو |
|---|---|---|---|---|
| ۲۷ میلیونه | ۸.۱ میلیونه | ۳.۵ میلیونه | ۳۹۳ میلیونه ډالر | ۱۹۲ شمیر |



# د مطالبو لړلیک

**لومړۍ برخه: ملي ستراتیژي**

دبشري چارو د ناظم سریزه ........................................ ۰۴

بشري غبرګون پلان ته کتنه ........................................ ۰۵

دناورینونو ارزونه ........................................ ۰۶

ستراتېژيکي موخې ........................................ ۰۸

دغبرګون ستراتېژي ........................................ ۰۹

عملیاتي وړتیا........................................ ۱۱

بشري لاس رسی ........................................ ۱۲

دغبرګون څارنه ........................................ ۱۳

دضرورتونه، اهدافواو اړتیاوو لنډیز ........................................ ۱۴

**دوهمه برخه: د غبرګون عملیاتي پلان**

بیړنۍ سرپناه او غیر خوراکي توکي ........................................ ۱۶

د خوړو خوندیتوب او کرهنه ........................................ ۱۷

روغتیا ........................................ ۱۸

تغذیه ........................................ ۱۹

خوندیتوب ........................................ ۲۰

اوبه پاکوالی او حفظ الصحه ........................................ ۲۱

د کډوالو او ارستنیدونکو د غبرګون پلان ........................................ ۲۳

**دریمه برخه: ضمیمې**

موخې ، شاخصونه او اهداف ........................................ ۲۴

پلان شوي ارقام: داړتیا وړاتکل شوې مرسته ........................................ ۳۰

پلان شوي ارقام: په ګوته شوي وګړي ........................................ ۳۱

دسکتور پر بنیاد مرستندویه اداري ........................................ ۳۲

لنډې نښې ........................................ ۳۳

که چیرې؟... مونږپه څواب ویلو کې ناکام شو ........................................ ۳۴

## سریزه

# د بشري چارو ناظم

د نومبر په میاشت کې د زلزلې له امله په زرګونه کورنۍ په داسې حال کې بې کوره شوې، چې د ژمي له رارسیدو سره به د فزیکي اړتیاوو د ډېروالي له امله لا زیانمنونکې شي. دغې زلزلې وښوده چې افغانستان د نابره طبعي پیښو له ګواښ سره مخ هیواد دی او چټک او اغیزمن غبرګون ته اړتیا لري.

د تېر یو کال په موده کې په افغانستان کې د اوږدمهالو شخړو له امله د ملکي وګړو مرګ ژوبله په دوامداره توګه لوړه شوې ده. د طالبانو په لاس د کندوز ولایت کښیوتل ددې لامل شو چې په لویه کچه ډېر وګړي له ښار څخه وتلو ته اړ شي او د افغانستان په بیلابیلو ولایتونو لکه کابل، مزارشریف او تخار کې میشت شي. داسې اټکل کیږي چې له ۱۰۰،۰۰۰ (سل زرو) څخه ډېر وګړي به په یو وخت بې ځایه شو ي وي .

دغه دوه ناورینونه یو له بل سره په نږدې وخت کې را منځ ته شو، او دغه ناورینونو په بیلابیلو ډولونو دا وښودله چې اغیزمنې بشري مرستې د مناسبو احتمالي بشري مرستو په زیرمو، د چټکې ارزونې په اغیزمنتیا او د بیړنۍ بشري مالي تمویل او تصمیم نیولو باندې تکیه کوي.

بیړنۍ او انعطاف منونکې بشري مرستې او د بشري مرستو زیرمې که په چټکۍ سره ولیږدول شي، دا به په ۲۰۱۶ کال کې دارتیاوو ځانګړتیا په ګوته کړي. په ۲۰۱۵ میلادي کال کې د ۲۲ ولسوالیو مرکزونه او همدارنګه د کندوز ښار د یو څه مودې لپاره د طالبانو په لاس کې کښیوتل ، په پرتلیزه توګه په ۲۰۱۴ کال کې یواځې درې ولسوالۍ دلنډې مودې لپاره د طالبانو په لاس کې کښیوتلې وو . د جګړو ډېروالی ، شدت، او دجګړو جغرافیایي پراختیا او د جګړو د وضعیت بدلون پدې معنی دی چې په ۲۰۱۶ میلادي کال کې کیدای شي چې دداخلي بې ځایه شویو وګړو شمېر نور هم ډېر شي.

په افغانستان کې د بیوزلۍ او ژوند د شرایطو په اړه د شوې سروې (ALCS) وروستنې خپاره شوې معلومات ښیې (هغه وګړي چې په ورځ کې له دوه ډالرو څخه په کم عاید سره ژوند کوي) ۷۰ سلنه وګړي اغیزمن کړي دي. دغه ستونزه د کمې اقتصادي ودې، د دندو او کارونو کمښت، د ۴۰،۰۰۰ ځوانانو چې هره میاشت د کار بازار ته راځي، د لوړې کچې زیانمننې لامل ګرځي. له هیواد څخه د کډوالو د شمیر ډېریدل د اقتصادي ودې د شا ته پاتې کیدو ښکاره نښه ده، د زیانمننې د کچې لوړیدل به همدارنګه د ناڅاپه طبعي پیښو په وړاندې دوګړو د مقاومت وړتیا هم کمه کړي، او په دې توګه به د نورو وګړو د بې ځایه کیدو لامل شي.

افغانستان ته په استثنایي توګه د ډېرو نړیوالو مرستو راتلل او د زیاتو پرمختیایي سرچینو دشتون له امله، د دغه پلان - کاري لید لوری د راتلونکو ۱۲ میاشتو لپاره یواځې د ژوند د ژغورونې په هڅو باندې متمرکز شوی دی. له دې امله دغه پلان یواځې د شخړو او طبعي پیښو له امله د بېځایه شویو وګړو ډېرې حادې، ژوند ژغورونکې، د کډوالو او د روغتیا او خوارځواکۍ د ژوند ژغورونکې اړتیاوې پوره کوي. سره له دې چې کیدای شي په افغانسان کې د شخړو له امله د بشري اړتیاوو کچه لوړه شي، په دغه پلان کې د تیرو کلونو په پرتله په جدي توګه د ژوند د ژغورنې په مرستو باندې تمرکز شوی دی. پداسې حال کې چې د افغانستان په هره برخه کې مزمنې یا اوږدمهالې اړتیاوې شتون لري، نو غوره ده چې دغه اړتیاوې د څو کلنو پروګرامونو له لیارې حل شي او په دغه پلان کې شاملې نه دي.

ددې لپاره چې په ۲۰۱۶ کال کې شونو پیښو ته ځواب ویل شوې وي، دا مهمه ده چې تمویلونکي او بسپنه ورکونکي اداري باید خپلې مرستې وویشي او په چټکه توګه وکارول شي ترڅو د طبعي او غیر طبعي پیښو له امله را منځ ته شویو اړتیاوو ته ځواب وویل شوی وي .



**مارک باوډن**

د بشري چارو ناظم

# د بشري غبرګون پلان

## لنډه کتنه

### لومړی ستراتيژيکه موخه

د وسلوالو شخړو په وراندې د ملکي وګړو خونديتوب

### خلورمه ستراتيژيکه موخه

د حادې خوارځواکۍ مخنيوی او درملنه

### دوهمه ستراتيژيکه موخه

داخلي بېځايه شويو، کډوالو او راستنيدونکو ته ځواب وينه

### پنځمه ستراتيژيکه موخه

د وضعيت تحليل او په همغږي توګه د اړتياوو ارزونه

دولت او تمويلوونکو ادارو په دوامداره وکالت او ملاتړ او ددوی په پرمختيايي ژمنو ستراتيژيکي موخي بشپړی او ترلاسه شي.

### دريمه ستراتيژيکه موخه

بيړنی او حادې روغتيايي او طبعي پيښې

### عملياتي شتون: د بشري مرستندويانو شمير

۱۹۲




### په‌نښه‌شوي‌وګړي

۳.۵ میلیونه




### د شخړو له امله بې ځايه کيدل *

۰,٤ میلیونه



* سل زره تخمين شوي اوږدمهاله بېځايه شوي خلک پکې شامل دي

### دشخړوله‌امله‌اغېزمن‌شوي روغتيايي‌خدمات**

۱,۷ میلیونه



** د ماينونو/ جګړې څخه پاتي دنا چاودو توکو له امله اغېزمن وګړي په کې شامل دي

### دعامه‌روغتيايي‌خدماتونوپه‌خطرکي‌لويدل

۰,۷ میلیونه



### حاده خوارځواکي

۱,۰ میلیونه



| اړ وګړي | وګړي چې مرستې به ترلاسه کړي | ټولې مالي اړتياوې ( امريکايي ډالر) | کډوال او راستنيدونکي دپاره ( امريکايي ډالر) |
|---|---|---|---|
| ۸.۳ میلیونه | ۳.۵ میلیونه | ۳۹۳ میلیونه | ۱۲۰ میلیونه |

# د بحران

# تحول/تکامل

د هیواد نورو سیمو ته شخړې غزیږي . په ۲۰۱۶ میلادي کال کې کیدای شي چې د غیرې دولتي وسلوالو ډلو او د دولتي امنیتي ځواکونو تر منځ به شخړې دوامداره او پراخیتیا ومومي چې له امله به يې وګړي نورو بشري مرستو او خوندیتوب ته اړتیا پیدا کړي.

### وسله والې شخړې

د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو په زیاتیدونکې توګه د فشار لاندې دي، ځکه چې د غیرې دولتي وسلوالو ډلو سره په ګنو جبهاتو او ولسوالیو کې په جګړه اخته دي. په ۲۰۱۵ میلادي کال کې د شخړو له امله د نورو ولایتونو اغیزمن کیدل د دغه کال یوه ځانګړتیا وه. د هیواد ځخه په زیات شمیر کې د بهرنیو ځواکونو د وتلو سره اوسنۍ جګړې تر ډیره بریده سختې شوي او د غیرې دولتي وسله والو له لورې د ولسوالیو په مرکزونو ډیر بریدونه ترسره کیږي. په ۲۰۱۵ کال کې د ۲۳ ولسوالیو مرکزونه د لنډ مهال لپاره د غیرې دولتي وسله والو له لورې نیول شوي ؤ، چې دغه شمیره په ۲۰۱۴ کال کې یواځې درې ولسوالۍ وې. په ۲۰۱۵ کال کې د وسله والو جګړو ډیروالې او شدت او د بې امنیتې له امله ویرې او ګواښنو

په زرګونو وګړي د افغانستان په بیلابیلو برخو کې بیځایه کیدو ته اړ کړي دي. په ۲۰۱۶ کال کې داسې اټکل کیږي چې نږدې ۲۵۰.۰۰۰ وګړي به د بې ځایه کیدو له امله بشري مرستو ته اړتیا ولري. څرنګه چې وضعیت کې ښه والی نشته او د شخړو لمنه نورو سیمو ته هم غزیږي نو هغه کورنۍ چې بیځایه شوي دي، د بیرته ستنیدو لپاره د خوندیتوب احساس نه کوي، او په دې توګه ګڼ شمیر خلک د اوږدمهال بې ځایه کیدو سره مخ کیږي.

### داخلي بې ځایه شوي وګړي، پناه غوښتونکي، راستنیدونکي او کډوال

په تیلیزه توګه په تیرو ۱۵ کلونو کې د شخړو له امله د بې ځایه شویو وګړو شمیر نږدې ۱.۱ میلیون تنو ته رسیږي. د پراخه او مخ په زیاتیدونکو جګړو او



## د ناورین مهال




### رواني شخړې په دوامداره توګه د هیواد ټیکاؤ اغیزمن کوي

#### د ۲۰۱۳ کال مۍ میاشت

د سیمیزو وسله والو ډلو له لورې په نښه شوو ملکي وګړو د وژنو په کچه کې ډیروالی را منځ ته شو. د شخړو او د پخوانیو ستونزو له امله ګواښنې ډیرې شوې.

#### د ۲۰۱۴ جون میاشت

په شمالي وزیرستان کې پراخه عملیات ددې لامل شول چې پاکستاني پناه غوښتونکي خوست او پکتیکا ته راکډه شي. ډیرې کمې کورنۍ بیرته ستنې شوي دي.

#### د ۲۰۱۴ جولائي میاشت

د ۲۰۱۳ کال تغذي ملي سروې وښودله چې په هرو پنځو ماشومانو کې چې د پنځو کلونو ځخه کم عمر لري (۹.۷ سلنه) ، د حادې خوارځواکې سره مخ دي.

تاوتریخوالي له امله د کورونو څخه د تېښتي او پناه غوښتني شمېر په ۲۰۱۵ کال کې د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۶۴ سلنه ډېر شوی دی، چې دغه شمېر نږدې ۲۰۰.۰۰۰ تنو ته په یو کال کې رسیږي. د پورتنیو یادو شوو شمېرو تصدیق ستونزمن دی ، ځکه چې بشري مرستندویان او فعالین د جګړو او نا امنیو له کبله سیمو ته لاس رسی نه لري.

د افغانستان په ګاونډ کې د پاکستان له شمالي وزیرستان څخه په ۲۰۱۴ کال کې د نظامي عملیاتو په نتیجه کې، افغانستان د وزیریستاني کډوالو کوربه شو.

هیله ده چې د ۲۲۵.۰۰۰ پناه غوښتونکو څخه چې افغانستان یې کوربه دی، په ۲۰۱۶ کال کې یې شمېره ځکه کمه شي چې ځینې به یې خپلو اصلي ټاټوبوته ستانه شي او همدارنګه به د بیو متریک نوم لیکني په هڅو کې هم غوره والی را منځ ته شي. خو داسې انګیرل کیږي چې نږدې ۱۷۵.۰۰۰ به یې د راتلونکی نا څرګند مهال لپاره پاتې شي.

## طبعي پیښې

په ۲۰۱۵ کال کې یو ځل بیا دا څرګنده شوه چې افغانستان په لوړه کچه د طبعي پیښو په وړاندې زیانمنونکی دی. پداسې حال کې چې د کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د سیلابونو او د سختې هوا له امله د اغیزمنو وګړو شمېر له منځنۍ کچې څخه شکته وه ، د اکتوبر په میاشت کې هیواد د ریکټر په کچه ۷.۵ درجي زلزلې ولړزاوه او د سلو څخه د زیاتو وګړو ژوند یې واخیست او ۱۲۷.۰۰۰ تنه نور یې بشري مرستو ته اړ کړل. د تیرو کلونو د شمېرو له مخې، هر کال د طبعي پیښو لکه سیلابونه، زلزلې، ځمکې ښوېدنې او وچکالیو له امله ۲۳۵.۰۰۰ تنه اغیزمن کیدل.

## د تغذي (ناورین)

په ۲۰۱۶ میلادي کال کې به نږدې یو میلیون ماشومان د حادې خوارځواکي له امله درملنې ته اړتیا ولري. د دې ډول خوارځواکي اغیز دادی چې معمولي ناروغي لکه نس ناستی، د تنفسي لارو ناروغۍ او سرخکان یا شري به مرګوني حالات رامنځته کړي . د خوارځواکۍ د کچې په اړه د هیواد له ډیرو برخو څخه راپور ورکړل شوی دی چې خوار ځواکي د بیړني حالت له کچې څخه لوړه ده، خو یواځې ۴۰ سلنه په خوارځواکي اخته ماشومان د درملنې لپاره ثبت کیږي چې د لس سلنو یې درملنه نه کیږي. د عامې روغتیا د اسانتیاوو د پوښښ کچه ۶۰ سلنه ده او یواځې ۳۴ سلنه یې د خوارځواکۍ درملنه کوي. په افغانستان کې د خوارځواکۍ د لاملونو په اړه کافي معلومات شتون نلري. په هیواد کې ډیرې میندې په دې نه پوهیږي چې څه وخت ددوئ ماشوم د خوارځواکۍ له امله ناروغه کیږي ، چې په دې توګه د دغه ماشومانو د اغیزمنې درملنې او پیژندنې لپاره تر ټولو لوی خند دی.



د شخړو له امله د بشري اړتیاوو د ډیروالي طمع کیږي.



### د شخړو له امله نوي بې ځایه کیدنې

| د ۲۰۱۵ جنورۍ څخه تر سپتمبر پورې | د ۲۰۱۶ کال لپاره وړاند وینې |
|---|---|
| ۱۹۷،۰۰۰ | ۲۵۰،۰۰۰ |

### پاکستاني پناه غوښتونکې

| د ۲۰۱۵ کال په سپتمبر کې | د ۲۰۱۶ کال لپاره وړاندینې |
|---|---|
| ۲۲۵،۰۰۰ | ۱۷۵،۰۰۰ |

### د ۲۰۱۵ اپریل میاشت

په شمال او لویدیځ کې د شخړو د چټک زیاتوالي له امله نوې بېځایه کیدنې را منځ ته شوې، چې ډېر یې هغه سیمو ته بې ځایه شوې چې لاس رسی ورته شونې نه دی.

### د ۲۰۱۵ سپتمبر میاشت

د کندوز له شخړې څخه لومړنی راپور دا ښیي چې له ۱۳،۰۰۰ څخه ډیرې کورنۍ بېځایه شوې دي.

### یې اسناده زیانمنونکي افغان راستنیدونکي

| د ۲۰۱۵ جنورۍ څخه تر سپتمبر پورې | د ۲۰۱۶ کال لپاره وړاندوینې |
|---|---|
| ۸۴،۰۰۰ | ۱۱۱،۰۰۰ |

### د افغاني کډوالو راستنیدنه

| د ۲۰۱۵ جنورۍ څخه تر سپتمبر پورې | د ۲۰۱۶ کال لپاره وړاندوینې |
|---|---|
| ۵۴،۰۰۰ | ۶۹،۰۰۰ |

# ستراتيژيکې موخې

د قوي برید د ټاکلو د تمرین او ډیرو هڅو وروسته دا فرصت برابر شو چې د یو مرکزي موخې  او د حادو بشري اړتیاوو د ټاکلو لپاره لاندې پنځه ستراتیژیکې موخې په ګوته شي. د هیواد په کچه بشري  ټیم یو واقعي او متمرکز پلان چمتو کړی دی تر څو د ژوند ژغورنې اړینې مرستې د راتلونکو ۱۲ میاشتو لپاره چمتو کړي.

## ۱ د ملکي وګړو خوندیتوب

په شخړو کې د د ښکیلو  خواوو له لوري د شخړو او تریو څخه د ملکي وګړو په خوندیتوب کې برخه واخیستل شي او له نورو جګړو سره د مخ کیدو د مخنیوي هڅې وشي تر څو چې د وګړو حقونو ته د نړیوال بشري او د بشري حقونو د قوانینو مطابق درناوی وشي.

## ۲ د شخړو له امله بیځایه شویو، پناه غوښتونکو او زیانمنونکو راستنیدونکو ته ځواب وینه

د وسله والو شخړو له امله د اغیزمنو ملکي وګړو، د داخلي بیځایه شویو، پناه غوښتونکو او راستنیدونکو په ګډون اړتیاوو ته د ټاکل شویو مرستو له لیارې ځواب وینه وشي، تر څو چې د زیانمنونکو ډلو جدي بنسټیزې اړتیاوې پوره شي.

## ۳ بیړنۍ، حادې روغتیایي او طبعي پیښې

د حادو روغتیایي او طبعي بیړنیو پیښو له امله اغیزمنو وګړوته په هغه صورت کې ځواب وینه چې ارزونې دا په ګوته کړي چې بشري مرستې د ژوند د ژغورنې لپاره جدي اړتیا ده

## ٤ د حادې خوارځواکۍ درملنه او مخنیوی

د اساسي (بنسټیزه) روغتیایي خدمتونو (BPHS) کې د جدي  تښې ډکول تر څو چې د حادې خوارځواکۍ  درملنه وشي او د تغذي وضعیت د لا خرابیدو څخه مخنیوی وشي.

## ۵ د وضعیت تحلیل او د اړتیاوو همغږې  ارزونه

د ارقامو د را ټولولو د کیفیت ښه کول، د اړتیاوو د همغږې  ارزونه په هغه توګو چې هوکړه شوې، د وضعیت تحلیل، تر څو چې بشري کړنې په سمه توګه ترسره شي او بشري لاس رسی پراخه شي.

ستراتیژیکې موخې په جدي توګه د  شخړو له امله په مستقیم ډول اغیزمن شویو وګړو ته د بیړنې خوندیتوب او د ژوند ژغورنې د فعالیتونو په وړاندې کولو متمرکزه دي. ددغه پلان بنسټیزه موخه د ملکي وګړو خوندیتوب، شخړو ته یې د مخامخ کیدو کمښت او په پایله کې د ژوند ژغورنه او د ټپونو کمښت دی. دوهمی، دریمې او څلورمې موخې دا ډاډمنه کوي چې کمې بشري مرستې د ژوند ژغورنې او د هغه ژوبلیدو او د انسانانو د رنځیدو د کمښت لپاره، چې د مخنیوي وړ دي، او د شخړو او د طبعي پیښو له امله را منځ ته شوې، وکارول شی.  د ارزونې شمیرې او ارقام او د وضعیت تحلیل په دغه پلان کې ددې لپاره شامل شوې دی،  چې اوسنیو ارزونو کې ستونزې شته او د شواهدو بنسټیز اهمیت به په ګوته شي، چې د دغه ارزونو په بنسټ د مهمو پروګرامونو دپاره تصمیمونه نیول کیږي.

پداسې حال کې چې یواځې ډیرو جدي بشري اړتیاوو ته لومړیتوب ورکړل شوی دی، پدغه پلان کې همدارنګه دا هم په ګوته شوې ده چې ډیر وګړي په اوږدمهاله  بیوزلۍ کې ژوند کوي او اوږدمهاله  او دوامداره مرستو ته اړتیا لري تر څو چې ددوئ د روغتیایي  حالت د خرابیدو مخنیوی وشي او ددوئ وضعیت د بحران لوري ته لاړ نشي. دغه پلان همدارنګه ددې وړاندوینه کوي چې د پرمختیایي فعالیتونو، د افغانستان حکومت او بسپنه ورکونکو د ټینګې ژمنې د ترلاسه کولو لپاره باید وکالت او ملاتړ وشي، تر څو چې  رغوونکې ګامونه پورته کړي او اوږدمهاله حل لیارې په ګوته کړي  او د زیانمننې لاملونه له منځه یوسي، چې دغه کار به هر کال په دوراني ډول د بشري مرستو د اړتیاوو ته په کمښت کې مرسته وکړي. د ټولنې دوديز مقاومت ځواکمنول، د پیښو د خطر او اغیز کمول او د حکومت په مشرۍ  چمتوالي او ځواب وینه، به  په اوږدمهال  کې د بشري مرستو ته د اړتیا په کمولو کې مرسته وکړي.

# د غبرګون ستراتیژي

د غبرګون یا ځواب ویني ستراتیژي، د تیر کال په چټک بدلون او د تاوتریخوالي ډک حالاتو ته په کتو جوړه شوې ده، او داسې انګیرل کیږي چې د ۲۰۱۶ میلادي کال کې د هغه پیښو چې وړاندوینه یې نشي کیداې، بیړنیو او انعطاف منونکو بیړنیو مرستو ته به په بیلا بیلو سیمو او برخو کې اړتیا وي. دا ستراتیژي په وکالت ، د افغانستان حکومت، پرمختیایي مرستندویانو او بسپنه ورکونکو سره په ګډ کار ټینګار کوي، تر څو چې د زیانمنني د لاملونو ریښې له منځه یوسي، د ټولنې دوديز مقاومت ځواکمن کړي، د پیښو خطر او اغیز کم کړي، او په پایله کې په بشري مرستو اوړدمهالي تکیه کمه کړي.

## د بشري غبروګون کاري ساحه

دغه پلان په کره توګه د بشري کړنو په ستراتیژي باندې متمرکز دی، چې د ژوند ژغورلو او د مړینې د مخنیوې لپاره په راتلونکې ۱۲ میاشتو کې اړین دی. څرنګه چې افغانستان په نړۍ کې یو د بیوزلو هیوادونو څخه دی، او وګړي یې د اوږدمهاله او پراخه اړتیاوو له کبله چې د لړ پرمختګ او بې امنیتي له امله را منځ ته شوې، لاس او ګریوان دي. پداسې حال کې چې دغه اوږدمهاله بیوزلي بشري ناورین نور هم جدي کوي، ددغو پیچلبو او پراخه پرمختیایي نواقصو لپاره د حل پلې کوونکې هځې باید د څو کلنو اوږدمهالو پروګرامونو له لیارې حل شي. دغه ډول د حل لیارې د بشري ځواب ویني د لنډ مهالي دوران له وړتیا څخه پورته دي.

افغانستان یو د هغو هیوادونوله جملې څخه دی چې د نړۍ په کچه زیاتې بشري مرستې تر لاسه کوي. د بشري کړنو یا فعالیتونو تمویل یې نږدې اوه سلنه د دغه ټولو مرستو جوړوي. د افغانستان حکومت په دې خبره ټینګار کوي چې د پرمختیایي مرستو زیاته اندازه دې د حکومتي بودجې له لیارې او د ملي پلان په چوکاټ کې ولګول شي. له دې امله دغه پلان د ټاکل شویو حدودو په نظر کې نیولو سره جوړ شوی دی تر څو دا باوري شي چې بشري فعالیتونه له پرمختیایي فعالیتونو څخه بیل دي او د بشري کړنو بې پرې توب خوندي وساتل شي، او په ورته وخت کې د بشري سرچینو اغیزمن کارونه هم باوري شي. د غبرګون د پلان شاخصونه د حکومت او پرمختیایي مرستندویانو د زیاتو کلونو جامع پروګرامونو ته په کتو سره تعریف شوي دي. دغه ډول هڅو کې موخه دا وه چې بشري مرستې د پرمختیایي فعالیتونو متممې وي او د روغتیا، ښوونې، کرهنې او کلیوالي پراختیا لپاره د حکومت د لومړیتوبونو ملي پروګرام، او د ملګرو ملتونو له لورې د پرمختیایي مرستو، په ځانګړې توګه د انډولیز اقتصادي پراختیا او د بنسټیزو ټولنیزو خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د بیاځلې فعالیتونو څخه مخنیوی وشي.

## د پلان مفروضات

په ۲۰۱۶ میلادي کال کې داسې انګیرل کیږي چې د شخړو کچه به لوړه شي، د په کور د ننه د بېځایه شویو شمیره به د ۲۰۱۵ کال څخه کمه نه وي، کیدای شي چې ډیره وي، له ګاونډیو هیوادونو څخه به نور زیانمنونکي افغانان هیواد ته راستانه شي، د تیر په پرتله به کم پناه غوښتونکې په دوامداره توګه بشري مرستو ته اړتیا ولري، او طبعي پیښو وړاندوینه باید هم وشي.

د بشري اړتیاو تر شا دهر ډول لاملونو د وړاندوینې د نشتون له امله داسې یوې ستراتیژۍ ته اړتیا ده چې په ټول هیواد کې چمتوالی ، د وړتیا ځواکمن کیدل، د سرچینو ځای په ځای کول او داسې تمویل ته اړتیا ده چې انعطاف منونکې او چټکه ځواب وینه پرې ترسره شي.

دغه ستراتیژي په بیړني غبرګون او نوي غبرګ مترقبه اړتیاوو باندې تمرکز کوي، دا هم روښانه ده چې د حکومتي خدمتونو وضعیت به په راتلونکې کال کې ښه نشي. ځواکمنې بشري مرستې به تر ډیرې کچې دا به ګوته کړي چې د زیانمنو وګړو سره مرستې وشي تر څو چې ددوئ بنسټیزې اړتیاوې پوره شي، او د خدمت وړاندې کوونکو په وړتیا باندې به اغیز وکړي تر څو د ژوند ژغورنې خوارځواکۍ درملنه وکړي او د جګړو ټپیانو ته د ترضیضاتو مراقبتونه وړاندې کړي. ۲۰۱۵ کال ته په کتو سره چې شخړې نورو ډیرو سیمو ته غزیدلې دی ، دا شوني ده چې د خدمتونو په وړاندې کولو کې به خنډونه را منځ ته شي. د ملي امنیت د ټینګښت لپاره د لګښتونو د ډیریدو له امله، د حکومت په بودجه باندې فشار راځې او په دې توګه د حکومت په وړتیا چې پرمختیایي کمښت او نقص او یا اوږدمهالي بیوزلي له منځه یوسي ، اغیز کوي، چې بیا دا په خپل وار د بشري اړتیاوو د را منځ ته کیدو لامل ګرځي.

## د لومړیتوب په بنسټ ځواب وینه

د ځواب وینې په پلان کې لومړیتوبونه د حادو بشري اړتیاوو د شاخصونو د موندنې په مهال چې بنسټیز حدود ورته ټاکل شوي او د بشري اړتیاوو بیاکتنې کې وړاندې شوي دي، تعین شوي دي. د بشري بحرانونو کلیدي لاملونو ته په پام سره، اړتیاوې د لاندې وضعیت له مخې ټاکل کیږي: د شخړو له امله اغیزمن، د شخړو له امله بې ځایه کیدل، پناه غوښتونکې، زیانمنونکې راستنیدونکې او همدارنګه د ژوند ګواښونکې حاده خوارځواکې او د خوړو د خوندیتوب شدید حالت شامل دي. په لومړني حالت کې او د نوې لوېې طبعي پیښې د نشتون په صورت کې، د شخړو له امله اغیزمنو او بېځایه شویو ته به د ګنو سکتورنو او ګنو کلسترونو له لیارې د ځواب وینې لومړیتوب ورکول کیږي او دا به باوري شي چې د ژوند ژغورنې جدي فعالیتونه لکه د ترضیضاتو مراقبت، د حادې خوارځواکۍ درملنه، او د اوږدمهال پناه غوښتونکو لپاره بنسټیزه خوراکي توکي، اوبه او روغتیایي اسانتیاوې چمتو شي.

## اوږدمهالي بیځایه کیدنې

څرنګه چې بیځایه کیدل نور هم پراخه کیږي، او رواني شخړې او د سیمو د واک بدلون وګړي خپلو کورونو ته له ستنیدو څخه ګرځوي، نو د هغه کورنیو شمیره چې اوږدمهالي بیځایه کیدو سره مخ دي، ورځ په ورځ ډیریږي. پداسې حال کې چې د دغه وګړو څارنه او تعقیب په تیرو وختونو کې په ډیره لږه کچه ترسره شوې دی، د ۲۰۱۶ کال ستراتیژي کې د دغه وګړو لپاره د ډیرو بشري او مصؤنیتي اړتیاوو وړاندوینه شوې ده، له دې امله ځانګړې سرچینې ددې لپاره پلان شوې دي تر څو چې د ګنو سکتورونو ارزونه ترسره شي او د پېژندل شویو اړتیاوو له مخې لږ تر لږه ۱۰۰،۰۰۰ تنو ته ځواب وینه وشي.

### د نغدو پیسو مرستې

د هیواد بشري ډله په دې پوهیږي چې د ګټو موخو لپاره د نغدو پیسو مرستې دا وړتیا لري چې په خپل وخت او لږ لګښت سره ګټو بیړنیو اړتیاوو ته ځواب وینه وشي، همدارنګه نغدې پیسې اغیزمنو ته د درناوي لامل کیږي او ګټه اخیستونکو ته واک ورکوي چې څه ډول دغه پیسې وکاروي او همدارنګه د سیمیز بازار ملاتړ هم کیږي. د بیړنی ځواب ویني میکانیزم (ERM) شریکې غیرې دولتي موسسې، چې د اروپا کمیسیون د بشري مرستې د څانګې (ECHO) له لوري تمویل کیږي، د شخړو او د طبعي پیښو د ځواب ویني په وخت کې د نورو مرستو تر څنګ د نغدو پیسو مرستې هم کړي دي. د ۲۰۱۶ وړاندیز شوي وضعیت به بشري ټولنه له نورو ننګونو سره مخ کړي او دیته به یې اړمه کړي چې نورې نوښتیزې چارې په لار واچوي تر څو په ټولو سکتورونو کې اړتیاوې پوره کړي او په ورته وخت کې د اغیزمنتیا او ګټورتیا هیلې هم پوره کړي. د نغدو پیسود لیږد موډل، چې ګټه اخیستونکو ته دا توان ورکوي چې له سیمیزو سوداګرو او چمتو کوونکو څخه توکي او خدمتونه په مستقیم ډول ترلاسه کړي، او دغه موډل به په راتلونکې کې په پراخه کچه څکه وکارول شي چې په لوړه کچه د بشري مرستو مستقیم ویش له موانعو سره مخ کیږي.

### په جندر یا ټولنیز جنسیت تمرکز

په افغانستان کې بشري فعالیت او کړنې د ښځو او نجونو سره د مرستې او خوندیتوب په برخه کې په دوامداره توګه له سیستماتیکو ستونزو سره مخ دي. ښځو او نجونو ته د بشري لاسرسي پراختیا چې د مرستو د ترلاسه کولو لپاره له سیستماتیکو موانعو سره مخ دي، د مخامخ مذاکرو، او مرستو د ترلاسه کولو لپاره مشمول لاس رسی او د ټولو بشري سازمانونو له لوري د خوندیتوب یا مصؤنیت ټولیز اقدامات اړین دي. پداسې حال کې چې د سکتور او د سیمې اړونده د جندر ځانګړې تحلیل لپاره ډیره هڅو ته اړتیا ده، خو د جندر اړونده ځینې اصلاحي اقدامات د هر سکتور د ستراتیژیک غبرګون په برخه کې شامل او بیان شوي دي.

### په اوږدمهال کې د بشري مرستو کمول

د بشري تمویل کمښت او په پایله کې د بشري فعالیتونو په بیړنی ځواب ویني تمرکز، د افغانستان په حکومت باندې نور هم فشار ډیروي تر څو چې په سیستماتیکه توګه د بشري اړتیاوو د اړو وګړو عمومي بار کم کړی. د شخړو له امله د بېځایه کیدو د ډیروالي سره، د ۲۰۱۳ د داخلي بېځایه شویو، ملي پالیسي د پلې کیدو د پرمختګ په برخه کې باید کره کړنې ترسره شي، چې دغه کړنې باید د حکومت د رهبري او د داخلي بېځایه شویو د بیړنیو اړتیاوو دځواب ویني د همغږي په برخه کې ترسره شي، همدارنګه دا باید هم باوري شي چې اوږدمهاله بېځایه شوي ددې فرصت تر لاسه کړي چې بیرته ستانه شي، یا د بېځایه کیدو په ځای کې مدغم شي او یا بل ځای ته ولیږدول شي، او له دوی سره په دغه کارونو کې د پرمختیایي پلانونو له لیارې مرسته وشي.

خوارځواکي او ساري ناروغي به تر هغه مهاله د ډیرې مړینې او ژوبلې کلیدي لاملونه وي، چې د روغتیایي خدمتونو پوښښ وګړو ته ډیر شوی نه وي. د اساسي (بنستیزه) روغتیایي خدمتونو کڅوړه چې ۱۸ کاله وړاندې را منځ ته شوې وه، په جدي توګه ارزول کیږي او بدلونونه پکې راوستل کیږي تر څو چې د وګړو اړتیاوې، په ځانګړې توګه د لوړې خوارځواکي اود شخړو له امله د اړتیا وړ خدمتونه چې د اوسنیو خدمتونو له توان څخه لوړ دي، پوره کړي.

په افغانستان کې هر کال بیاځلي طبعي پیښې په منځنۍ کچه د دوسوه پنځوس زره وګړو ژوند اغیزمن کوي. ددې لپاره چې د افغانستان حکومت د لومړني ځواب ویونکي په توګه د اغیزمنو وګړو د ځواب ویني په برخه کې خپل مسؤلیت ترسره کړی وي، باید د پیښو د مدیریت ملي ادارو د وړتیا لوړولو په برخه کې کار وکړي او په دې برخه کې خپله رهبري وښیي. د پیښو د خطر یو ځواکمن ځواب باید د چمتوالي، د خطرونو تحلیل، د وړتیا نقشه او د واړ د مخه خبرتیا باندې ډیر ټینګار وکړي او د لګښت له پلوه اغیزمن لومړیتوب ګامونه په ګوته شي. د اوبو د وضعیت مدیریت ، د طبعي پیښو د خطرونو لکه سیلابونه، د سیندونو تخریب او وچکالی د حاصلاتو کمښت لپاره مرکزي اهمیت لري. ځواب وینه او چمتوالی باید د اوږدمهالي نوښتونو سره اړیکې ولري چې په پایله کې د ټولنې مقاومت او وړتیا لوړه کړي.



انځور: اندریو کویلتی

# کاري یا عملیاتي

## وړتیا

په ۲۰۱۵ کال کې بشري ټولنې په چټکې ځواب وینه کړې ده، په ټولیزه توګه په ۱۵ ولایتونو کې چې بشري اړتیاوې ډیرې وې، د بشري فعالینو په شمیره کې لس سلنه ډیروالی راغلی دی.

د بشري کاري شریکانو شمیر په ۲۰۱۵ میلادي کال کې نږدې ۱۶۰ ملي او نړیوالو غیرې دولتي موسسو ته ورسیده، چې د ملګرو ملتونو ادارو، د کډوالو نړیوال سازمان او د سرې میاشتې او د سره صلیب د ټولنو سربیره د بشري ځواب وینې د فعالیتونو راپورونه یې ورکړي دي. نور سازمانونه چې دا یې په ګوته کړې ده چې د اړتیا د را منځ ته کیدو په صورت کې د ځواب وینې وړتیا لري نو بیا دغه شمیره په ټولیزه توګه ۲۴۹ بشري شریکانو ته رسیږي. د بشري شریکانو په ګوته کول او د همغږۍ په هڅو کې یې شریکول د ( ښوک چیرې څه کوي) چې د ملګرو ملتونو د بشري مرستې د همغږۍ اداري سیمیزو دفترونو او کلسترونو د څارنې د بهیر په مرسته راټولیږي، ځواکمن شوی دی.

سره له دې چې د بشري شتون په برخه کې ډیروالی راغلی دی، چې دغه شتون د اړتیاوو جغرافیایي پراخوالي ښیي، خو د ملګرو ملتونو په ګډون دغه شریکان له مالي موانعو سره مخ دي چې د توکو او بشري سرچینو له پلوه یې په لوړه کچه د ځواب وینې وړتیا کمه کړې ده . پداسې حال کې چې د ملګرو ملتونو د بشري مرستې د همغږۍ اداره پدې هڅه کې ده چې د بشري شریکانو شونتیا د بشري اړتیاوو سره متناسبه کړي، بسپنه، لاس رسی او امنیت لوی خنډونه دي. په ۲۰۱۵ میلادي کال کې، د نورستان او هلمند ولایتونو ۲۰ سلنه د بشري کاري فعالینو د کمښت شاهد وه.



# بشري

## لاس رسی

په ۲۰۱۶ کال کې کیدای شي چې د لاس رسي خنډونه ډېر شي او دغه خنډونه د وسله والو ډلو د ډېروالي، د مالي شونتیا د کموالي له امله د بشري شونتیا کمښت او د دولت د کنترول د ناځرګنده وضعیت له امله ډېرېدلی شي. په افغانستان کې بشري ځواب وینه باید نوې ستراتیژیک وضعیت خپل کړي، تر څو چې تر ټولو ډېرو زیانمنونکو ته خوندي لاسرسی ترلاسه کړي.

د شخړو اړونده امنیتي خطرونه او د دغه خطرونو مناسب مدیریت په ټول افغانستان کې د بشري لاس رسي تر ټولو لوی خنډ دی، سره له دې چې جرمونه، سیمیزې سیاسي مداخلې او کمزورې زیربناوې هم د بیړني او بنسټیزو پروګرامونو په وړاندې خنډونه دي. دغه مخ په زیاتیدونکي خنډونو ډېرې اداري دیته اړ کړې دي چې د لیرې فاصلې څخه شراکت او مدیریت تلن لاره غوره کړي، چې دغه کار د ۲۰۱۶ کال د بشري ټولنې د بشري ستراتیژیک ځواب ویني اړتیا ده. خو بشري ټولنه دیته اړ ده چې په عکس العملی توګه خپل کاري وضعیت ته بدلون ورکړي تر څو چې ډېرو وګړو ته په هغه سیمو کې لاس رسی وکړای شي چې د دولت له کنترول څخه بهر دي.

د هغو ورکړل شویو پیښو راپورونه چې د مرسته ورکونکو سازمانونو کارکونکې پکې اغیزمن شوې دي.






# د غبرګون ځارنه

بشري ټولنه په حساب ورکونه، اغيزمنو وګړو ته د ځواب ويني د اغيزمنتيا او تکافو د دوامداره ځارنې او راپور ورکونې له لیارې، ځواکمنه کړي. د پلان شويو فعاليتونو ځارنه به د پايلې په وړاندې د بشري کړنو تصميم نيونه ښه کړي او د سرچينو اغيزمنه کاروَنه او ليږد به هم ښه شي.

## د غبرګون د ځارنې کاري چوکاټ

د غبرګون یا ځواب وینې د ځارنې کاري چوکاټ (RMF) د افغانستان د ۲۰۱۶ کال د بشري غبرګون پلان بشپړونکی دی. پدې کې د پايلو يو کاري چوکاټ شامل دی، د غبرګون د ځارنې پلان، د راپور ورکونې مهال ويش او د کلسترونو تر منځ او د کلستر ځانګړې د ځارنې اضافي پلانونه شامل دي. د ځواب وينې د ځارنې کاري چوکاټ، بشري ټولنې ته يو جوړښت برابروي تر څو چې د ترلاسه شوي پرمختک د پلان پايلو سره چې د بشري غبرګون پلان کې ټاکل شوي دي، وارزوي. د داسې يو بهير باروي کول چې له مخې يې د ترلاسه شويو پايلو او د ځانګړې شويو سرچينو ځارنه وشي او په دې توګه د اغيزمنو وګړو، حکومت، تمويل کوونکو او يو بل ته د بشري ټولنې د روڼتيا او حساب ورکونې چاري وده وکړي. د ځواب وينې د ځارنې کاري چوکاټ لاس ته راوړنې به د بشري فعالينو سره مرسته وکړي چې د شواهدو په بنسټ د نواقصو د حل لپاره د اړتيا وړ اقداماتو په برخه کې تصميم ونيسي، تشې ډکې کړي او/يا د غبرګون پلان اصلاح کړي، او په دې توګه د اوږده او لنډ مهال لپاره اغيزمن او ګټور بشري غبرګون کې ونډه واخلي.

## د کلسترونو ځارنه

د کلسترونو موخې د ۲۰۱۶ کال لپاره د ځواب وينې په فعاليتونو متمرکزې دي، چې دغه موخې د پنځه ستراتيژيکو موخو سره چې د هيواد په کچه جوړې شوې دي، مطابقت لري.ددې لپاره چې هرې موخې ته د رسيدو لپاره پلان جوړ شي، هر کلستر د بنسټيزه فعاليتونو ټولګه او لاس ته راوړنې په ګوته کړې دي چې د اړونده موخو او اساس (که شتون ولري) سره يو ځای دي.

د کلستر له پلانونو څخه به شاخصونه د هيواد په کچه ستراتيژيکي اړونده موخې او د شوي پرمختګ د ځارنې لپاره وکارول شي. د لاس ته راوړنو شاخصونه د کلسترونو د غړو د پروژو ونډې په ګوته کوي تر څو چې بنسټيز فعاليتونه په لنډه توګه په ګوته شي او د کلسترونو د کليدي لاس ته راوړنو په اړه معلومات ترلاسه شي، چې په دې توګه به دا په ګوته شي چې ايا اړونده کلستر د ټاکل شويو موخو په ترلاسه کولو کې په سمه روان دی او که نه. چيرې چې شونې وه، شاخصونه داسې په ګوته شوي دي چې کارنده معلومات چمتو کړي تر څو چې د لومړيتوب فعاليتونه او يا د نظر لاندې ګټه اخيستونکو ته بدلون ورکړل شي. ټول کلسترونه به داسې پروسيجرونه را منځ ته کړي چې د خپلو غړو د فعاليتونو لاس ته راوړنو څخه به ځارنه وکړي.

## راپور ورکونه

د بسپنې په اړه د ترلاسه شوي معلومات چې څومره بسپنه ورکړل شوې او څومره اړتيا ده، د ځارنې معلومات به د بشري غبرګون په ويب پاڼه کې خپاره شي او په هره دريو مياشتو کې به د بشري ډشبورډ يا معلوماتي لنډيز له ليار خپور شي. د ۲۰۱۶ کال په نيمايي کې به د اطلاعاتو کره ارزونه او تحليل د ځارنې نوبتي راپور د (PMR) په مرسته ترسره شي ، تر څو چې په ستراتيژيک کچه بحث او تصميم پرې ونيول شي. د ځارنې د نوبتي راپور وخت به په داسې توګه جوړ شي چې د ۲۰۱۷ کال دوران پلان کې به ترې کار واخيستل شي او د افغانستان د ګډ بشري صندوق (CHF) د معياري تخصيص د ستراتيژي بنسټ به هم جوړ کړي.



# د ضرورتونو، موخو او اړتیاوو

## لنډیز

### پلان شوي مرستي

۶,۵ میلیونه

### هغه وګړي چې مرستي به ورسره وشي

۳,۵ میلیونه

### اړتیاوې

۲۹۳ میلیونه

| | د حالت له مخې: د شخړو له امله بېځایه شوي | د حالت له مخې: د شخړو له امله اغیزمن شوي روغتیا | د طبعي پیښو له امله اغیزمن شوي | عامه روغتیا په خطر کې | خوارځواکي او د خوراکي عدم خوندیتوب | پناه غوښتونکي، او په خپله خوښه راستنیدونکي | ټول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د پلان شو مرستو غوښتنه | ۰.۴ میلیونه* | ۰.۴ میلیونه | ۰.۲ میلیونه | ۲.۷ میلیونه | ۰.۷ میلیونه | ۳.۹ میلیونه | ۸.۳ میلیونه |
| پلان شوي مرستي | ۰.۴ میلیونه* | ۰.۴ میلیونه | ۰.۲ میلیونه | ۲.۷ میلیونه | ۰.۷ میلیونه | ۲.۱ میلیونه | ٦.۵ میلیونه |
| په نښه شوي وګړي | ۰.۴ میلیونه* | ۰.۴ میلیونه | ۲.۷ میلیونه** | | | | ۳.۵ میلیونه |

* سل زره اوږدمهالي داخلي بېځایه شوي پکې شامل دي. ** په دغه شمیره کې هغه وراندویل شوي شمیرې شاملي دي چې د طبعي پیښو، د شخړو له امله روغتیایي اغیزمن، عامي روغتیا خطر خوارځواکي او خوراکي خوندیتوب له امله اغیزمن شوي دي.

د غبرګون ټولیزه اړتیا چې په ټولو سکتورونو کې په ګوته شوي ده، او د اړو وګړو اړتیاوې به  په لاندې شېږو په ګوتو شویو ټولیو کې پوره کړي، په تخمیني توګه ۸.۳ میلیونه وګړي دي.  د پلان جدي لومړیتوبونو ته په کتو، د دغه اړتیا ډیره برخه اړین اهمیت لري. له دې امله په ټولو کلسترونو کې به ۶.۵ میلیونه وګړي د مرستې په پلان کې شامل شي.

معمولي تکلارې ته په کتو سره، چې د هر سکتور لپاره د ستراتیژي په چوکاټ کې لومړیتوب ورکړل شوي، په یوه لویه کچه پلان شوي مرسته به ورته وګړو ته ورکړل شي تر څو چې ددوئ ګڼې اړتیاوې پوره شي. د کټه اخیستونکو یا د مرستې ترلاسه کوونکو دشمیرو دغه بیاځلي ته په کتو سره، داسې اټکل کیږي چې ۳.۵ میلیونه وګړو ته به ځواب وینه وشي.

| 1)بیړنی سرپناه او غیرخوراکي توکي 2) او به پاکوالی او حفظ الصحه | ټول: پلان شوي غوښتنى | په نښه شوي وګړي | د حالت له مخې: د شخړو له امله بېځایه شوي | د حالت له مخې: د شخړو له امله اغیزمن شوي روغتیا | دپه نښه شووګړو ویش: پناه غوښتونکي، او په خپله خوښه راستنیدونکي | دپه نښه شووګړو ویش: د طبعي پیښو له امله اغیزمن شوي | دپه نښه شووګړو ویش: عامه روغتیا په خطر کې | دپه نښه شووګړو ویش: خوارځواکي او د خوراکي عدم خوندیتوب | د عمر او جنس له مخې: ښځینه | د عمر او جنس له مخې: ماشومان، ځوانان اومشران | غوښتنې: کډوال او راستنیدونکي | غوښتنې: ټول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بیړنی سرپناه او غیرخوراکي توکي | ۰.۸ میلیونه | ۰.۷ میلیونه | ۰.۳ میلیونه | – | ۰.۲ میلیونه | ۰.۲ میلیونه | – | – میلیونه | ٤۹٪ | ٥۷ / ۳۸ / ٥٪ | ۱۷ میلیونه | ٥۳.۷ میلیونه |
| د خوراک خوندیتوب | ۱.۸ میلیونه | ۱.۸ میلیونه | ۰.۳ میلیونه | – | ۰.۳ میلیونه | ۰.۲ میلیونه | – | ۱.۰ میلیونه | ٤۹٪ | ٥۸ / ۳٦ / ٦٪ | ٥۲ میلیونه | ۱۱۰.۲ میلیونه |
| روغتیا | ۳.۲ میلیونه | ۳.۲ میلیونه | ۰.۳ میلیونه | ۱.۷ میلیونه | ۰.۳ میلیونه | ۰.۲ میلیونه | ۰.۷ میلیونه | – میلیونه | ٤۹٪ | ٥۳ / ٤۲ / ٥٪ | ٤ میلیونه | ۳۹.٦ میلیونه |
| تغذیه | ۲.۹ میلیونه | ۱.۱ میلیونه | – میلیونه | – میلیونه | ۰.۱ میلیونه | – میلیونه | – | ۱.۰ | ٥۳٪ | ۹۰ / ۱۰ / –٪ | ۰ میلیونه | ٦۳.۲ میلیونه |
| ساتنه | ۱.۹ میلیونه | ۱.٦ میلیونه | ۰.۲ میلیونه | ۱.۰ میلیونه | ۰.٤ میلیونه | – میلیونه | – میلیونه | – میلیونه | ٤۹٪ | ٥٤ / ٤۰ / ٦٪ | ۱٤ میلیونه | ٤۲.۰ میلیونه |
| اوبه پاکوالی او حفظ الصحه | ۱.۸ میلیونه | ۰.۹ میلیونه | ۰.۲ میلیونه | ۰.۲ میلیونه | ۰.۱ میلیونه | ۰.۱ میلیونه | – میلیونه | ۰.۳ میلیونه | ٥۰٪ | ٦٦ / ۳۰ / ٤٪ | ٦ میلیونه | ۲۰.٥ میلیونه |
| دخو اړخیرو سکتورونو نغدی پیسی | – | ۰.۱ میلیونه | – | – | ۰.۱ | – میلیونه | – | – | ٥۰٪ | ٥٥ / ٤۰ / ٥٪ | ۲۷ میلیونه | ۳٦.۸ میلیونه |
| ټول | ۸.۳ میلیونه | ۳.٥ میلیونه ** | ۰.۳ میلیونه ** | ۲.۷ میلیونه ** | ۰.٤ میلیونه ** | ۰.۲ میلیونه ** | ۲.۷ میلیونه | ۲.۱ میلیونه ** | ٥۰٪ | ٥۹ / ۳٥ / ٥٪ | $۱۲۰ میلیونه | $۳۹۳ میلیونه *** |

یاداښت: * ماشومان ( له ۱۸ کلونو څخه کم)، لویان ( ۱۸-۵۹ کلونو پورې)، لویان ( له ۵۹ کلونو څخه لوړ). ** تخمین شوي اوږدمهالي ۱۰۰،۰۰۰ تنه داخلی بې ځایه شوې پکې شامل نه دي *** په ټولیزه شمیره کی د ملګروملتونو د بشرى هوایي چلند خدمتونو یا UNHAS او د همغږۍ شمیرې هم شاملې دي.

# دوهمه برخه:

# د غبرګون کاري پلان

بیړنۍ سرپناه او غیر خوراکي توکي ........................................ ۱۶
د خوړو خوندیتوب او کرهنه ........................................ ۱۷
روغتیا ........................................ ۱۸
تغذي ........................................ ۱۹
خوندیتوب یا مصؤنیت ........................................ ۲۰
اوبه او حفظ الصحه ........................................ ۲۱
د پناه غوښتونکو، راستنیدونکو د غبرګون پلان ........................................ ۲۲

# بيړنۍ سرپناه او غير خوراکي توکي

## وړاندوېل شوي اړ وګړي

۰,۸ ميليونه

## هغه وګړي چې مرسته به ورسره وشي:

۰,۷ ميليونه

## اړتيا

٥٤ ميليونه

### بيړنۍ سرپناه او غير خوراکي توکو (ESNFI) کلستر لومړۍ موخه:

**١** هغه وګړي چې د شخړو له امله بېځايه شوي او/يا اغيزمن شوي دي، په کافي اندازه د هوا له اغيز څخه خوندي دي او کورنۍ محرم ژوند لري.

له دويمې ستراتيژيکې موخې سره تړاو لري

### بيړنۍ سرپناه او غير خوراکي توکو (ESNFI) دکلستر دوهمه موخه:

**٢** هغه وګړي چې د طبعي پيښو له امله بېځايه شوي او/يا اغيزمن شوي دي، په کافي اندازه د هوا له اغيز څخه خوندي دي او کورنۍ محرم ژوند لري.

له دريمې ستراتيژيکې موخې سره تړاو لري

### بيړنۍ سرپناه او غير خوراکي توکو (ESNFI) د کلستر دريمه موخه:

**٣** ځواب وينې د کره ارزونو په بنسټ ترسره کيږي څو چې د وضعيت تحليل ترسره شي او په کره ډول مناسب او په هدف ځواب وينه ترسره شي.

له پينځمې ستراتيژيکې موخې سره تړاو لري


اړيکې:

مارتين اومالائی د بيړنۍ سرپناه او غير خوراکي توکو (ESNFI) کلستر همغږۍ کوونکی

Coord.afghanistan@sheltercluster.org

ذين الله سلطانی د کلستر مرستيال همغږۍ کوونکی

zsultani@iom.int


## تکلاره او لومړيتوبونه

د بيړنۍ سرپناه او غير خوراکي توکو (ESNFI) کلستر به هغه وګړي چې د شخړو او طبعي پيښو له امله بې ځايه شوي يا اغيزمن شوي او د کډې ارزونې د تکلارو له لياري په ګوته شوي دي، د ځواب وينې په موخه کې شامل کړي. د نظر لاندې ډلې به لومړې د بې ځايه شويو کورنيو په توګه چې کورنه يې بشپړ او يا ډير زيانمن شوي وي په ګوته شي، چې په دې توګه بيارغونې او يا لوی ترميم ته اړتيا لري.

کلستر به بيا د زيانمنې د اوه شاخصونو په مرسته په اغيزمنو کورنيو کې تر ټولو ډيرې زيانمنونکې کورنۍ بيلوې: هغه کورنۍ چې مشري يې د ښځې په غاړه وي، هغه کورنۍ چې مشري يې د لوی عمر لرونکو په غاړه وي، هغه کورنۍ چې مشري يې د معلوليت لرونکو وګړو په غاړه وي، لوېې کورنۍ( اته يا ډير غړي)، د ډير لږ عايد لرونکې کورنۍ، هغه کورنۍ چې مشران يې ماشومان وي، مزمن ناروغان او نور زيانمنونکي لاملونه خپلواکي هم خوندي پاتې شي.

سره له دې چې لاندې لومړيتوبونه په ګوته شوي دي، د کلستر ځواب وينه د ټولو د نظر لاندې ګروپونو ته اړينه ده، او د ځواب وينې بريدونه هم په ګوته شوي دي ترڅو چې د اغيزمنو وګړو حالت نور هم خراب نشي او د فعاليت د نشتون له امله دوی د ډيرې زيانمنې کټګورۍ ته داخل نشي.

د ځواب وينې د لومړۍ کرښې يا بريد په توګه، کلستر به د بيړنۍ سرپناه او غير خوراکي توکو اړتياوې د نويو بېځايه شويو ( د شخړو يا طبعي پيښو) او د هغه وګړو چې بيا ليږدول شوي دي پوره کړي، چې په لاندې ډول دي: هغه وګړي چې له کورونو څخه بهر اوسيږي، هغه وګړي چې په وړانو او يا پريښودل شويو کورونو کې دي (ښاري سيمو کې)، هغه وګړي چې له کوربه کورنيو سره اوسيږي، هغه وګړي چې په پنډغالو يا ميشت ځايونو کې اوسيږي چې مديريت يې کيږي.

د ځواب وينې د دوهمې کرښې يا بريد په توګه، کلستر به د اغيزمنو کورنيو د سرپناه د بيارغونې او ترميم اړتياوې او ۶-۱۲ وروستيو مياشتو کې د بېځايه شويو، غير خوراکي توکو اړتياوې پوره کړي، چې لاندې وګړي پکې شامل دي: هغه وګړي چې کورونه يې ډير شديد زيانمن شوي دي، هغه وګړي چې د لنډې مودې لپاره کډوال شي چې بېځايه شي، هغه وګړي چې په پنډغالو يا ميشت ځايونو کې اوسيږي او د اوسيدو ځای يې نوې کيدو/ترميم ته اړتيا لري.

د ځواب وينې د دريمې کرښې يا حد په توګه، کلستر به د تر ټولو زيانمنونکو د جدې سرپناه او غيرخوراکي توکو د اړتياوو په پوره کولو سره د سرپناه کيفيت ثابت وساتي، چې لاندې وګړي پکې شامل دي: هغه وګړي چې په غيرې رسمي ځايونو کې ميشت دي، هغه وګړي چې په پنډغالو ايا ميشت ځايونو کې اوسيږي چې مديريت يې کيږي، هغه وګړي چې په وړانو او يا پريښودل شويو کورونو کې (ښاري سيمو کې) اوسيږي.

د بيړنۍ سرپناه او غير خوراکي توکو (ESNFI) کلستر ستراتيژي د کډو بنسټيزو معيارونو په بنسټ جوړه شوې ده، تر څو دا باوري شي چې هغه وګړو سره چې مرسته کيږي وکولای شي خوندي او د درناوي ژوند وکړي او خدمتونو او رواڼو اړو مرسته ته لاس رسی ولري.

د بيړنۍ سرپناه او غير خوراکي توکو (ESNFI) کلستر يو لړ کڅوړې او د نغدو پيسو کڅوړې برابرې کړې دي چې د سرپناه او غيرخوراکي توکو لپاره جوړې شوې ترڅو دا باوري کړي چې د ژوند لپاره کافي فضا برابره او يا ساتل شوې ده. دغه کڅوړې اغيزمنو وګړو ته دا توان ورکوي چې خپل محرميت، خونديتوب، هوساينه وساتي او په دې توګه د ثانوي روغتيايي اغيزو څخه خوندي پاتې شي، چې دغه خونديتوب د ګرمو خونو برابرول او د اقليمي بدلونونو څخه مخنيوې پداسې حال کې وشي چې ددوئ د ورځني ژوند فعاليتونو اود کورنۍ کاروټو

## د اړو او په نښه شويو وګړو درجه بندي د عمر او جنس پر بنسټ

د غبرګون يا ځواب وينې تفصيلي پلان لپاره کولاې شئ چې د humanitarianresponse.info پاڼه وګورئ.

| | د حالت له مخې | | | | | | د جنس او عمر له مخې | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د شخړو له امله بېځايه شوي | د شخړو له امله اغيزمن شوي روغتيا | د طبعي پيښو له امله اغيزمن شوي | عامه روغتيا په خطر کې | خوارځواکي او د خوراکي عدم خونديتوب | پناه غوښتونکياو خطرسره مخ راستنيدونکي | ٪ ښځينه | ٪ ماشومان، ځوانان او مشران |
| په ۲۰۱۶ کې د مرستو غوښتنه | ۰.۳ ميليونه | – | ۰.۲ ميليونه | – | – | ۰.۳ ميليونه | ٤٩٪ | ٥٧ \| ٣٧ \| ٦٪ |
| په نښه شوي وګړي | ۰.۲ ميليونه | – | ۰.۲ ميليونه | – | – | ۰.۳ ميليونه | ٤٩٪ | ٥٧ \| ٣٨ \| ٥٪ |
| مالي غوښتنې | $٣٦.٤ | | | | | $١٧.٣ | | |

* ماشومان(تر ١٨کلو کم عمر)، ځوانان (له ١٨-٥٩ کلو) مشران له ٥٩ لوړ عمر لرونکي

## وړاندوډيل شوي اړ وګړي

١,٨ میلیونه

## هغه وګړي چې مرسته به ورسره وشي:

١,٨ میلیونه

## اړتیا

١١٠ میلیونه

## د خوړو خوندیتوب لومړنۍ موخه:

١ د شخړو له امله د داخلي بېځایه شویو، پناه غوښتونکو او راستنیدونکو د ژوند ژغورنه او د معیشت رغول.

له دويمې ستراتيژيکې موخې سره تړاو لري

## د خوړو خوندیتوب دوهمه موخه:

٢ د طبعي پېښو له امله د اغیزمنو وګړو د ژوند ژغورنه او د معیشت رغول

له دويمې ستراتيژيکې موخې سره تړاو لري

## خوړو خوندیتوب دریمه موخه:

٣ د کال د کم حاصل په موسم کې د خوارکي شدید عدم خوندیتوب او هغه وګړي چې د حادې خوارځواکي له خطر سره مخ دي، د خوراکي توکو لاس رسی باروي کول.

له څلورمې ستراتيژيکې موخې سره تړاو لري

## خوړو خوندیتوب څلورمه موخه:

٤ د خوراکي خوندیتوب او کرهنې کلستر (FSAC) د شریکانو د بیړني چمتوالي او ځواب ویني وړتیا لوړول

له پينځمې ستراتيژيکې موخې سره تړاو لري


## اړیکي

عبدالماجد د کلستر همغږي کوونکي

abdul.majid@fao.org

محمد بشير بهير د غيري دولتي موسسو له لوري د کلسترمرستیال

agriculture@coar.org.af


# د خوړو خوندیتوب او کرهنه

### تګلاره

د خوراکي خوندیتوب او کرهنې کلستر (FSAC) به د ۱.۷ میلیونو څخه ډیر د خوراکي خوندیتوب نه بې برخې او زیانمنونکي وګړي په ۲۰۱۶ کال کې د خپلې موخې د پوښښ لاندې راولي، سره له دې چې دا منې چې د خوراکي خوندیتوب ټولیزې او اوږدمهالې اړتیاوې له دغه شمیرې څخه ډیرې لوړې دي. دغه کلستر د شخړو او طبعي پیښو له امله اغیزمن وګړي، داخلي بیځایه شوي، پناه غوښتونکي او راستنیدونکي په خوست او پکتیکا کې د پناه غوښتونکو په ګډون او همدارنګه هغه وګړي چې د خوراکي عدم مصؤنیت شدید حالت کې د هیواد په ۱۸ تر ټولو زیانمنونکو ولایتونو کې ژوند کوي او د خوراکي خوندیتوب د جامع ګروپ بندې (IPC) د وړاندوینې د تحلیل او د ۲۰۱۵ کال د خوراکي خوندیتوب د موسمې ارزونې (SFSA) له لیارې په ګوته شوې وه، په لومړیتوب کې شامل کړي دي. د شخړو او د طبعي پیښو له امله نږدې ۷۵۸،۷۹۵ اغیزمن وګړي ( د اړو وګړو ۸۶ سلنه) او د خوارځواکې د شدید عدم خوندیتوبو سره ۱.۰۷ میلیون وګړي (۶۵ سلنه ټولیز اړ وګړي) به د دوئ د وضعیت او همدارنګه د خوراک د عدم خوندیتوب د شاخصونو له مخې په پام کې ونیول شي. دواړه ډلې به د ژوند ژغورنې غیرې مشروطې مرستې د خوړو، نغدو پیسو او یا د کوپون له لیارې تر لاسه کړي، او همدارنګه بنسټیزه بیړنۍ یا د ژوند معیشت د ساتنې مرسته به هم ترلاسه کړي، تر څو چې د لوږې او د تغذي د وضعیت د خرابیدو څخه مخنیوی وشي او معیشت خپل حالت ته واړول شي.

### لومړیتوبونه

د مخکښ لومړیتوب په توګه، د شخړو او طبعي پیښو له امله زیانمنونکي اغیزمن بېځایه شوي وګړي، پناه غوښتونکي او ستنیدونکي به د کلستر له لوري بشپړ بیړنی راشن تر لاسه کړي، چې دغه راشن د دوه میاشتو لپاره هر تن ته ۲۱۰۰ کیلو کالوري انرژي په هره ورځ کې برابروي، البته د خوست او پکتیکا پناه غوښتونکې له دغه راشن څخه مستثنا دي، ځکه چې دوئ به د ټول کال په دوران کې دغه راشن او مرستې ته اړتیا ولري. نږدې ۴۴ سلنه د اغیزمنو وګړو څخه به بیړنۍ یا د معیشت د خوندیتوب مرستې د کرهنې/مالدارې د کڅوړو له لیارې ترلاسه کړي تر څو چې خپل بنسټیز معیشت پرې بیا را ژوندی کړي او د غیر مشروطه مرستو باندې اوږدمهالې پاتې کیدو څخه مخنیوی وکړي.

د دوهم لومړیتوب په توګه، د موخې له مخې د خوراکي شدید عدم خوندیتوب سره مخ وګړي به د کلستر له لورې د سپارښتل شوي راشن چې د بیړني راشن نیمایې جوړوي او هر تن ته ۱۰۵۰ کیلو کالوري انرژي هره ورځ برابروي چې د دریو میاشتو لپاره به په هغه موسم کې ورکول کیږي چې حاصلات نلري. د موخې له مخې هغه وګړي چې د خوراکي شدید عدم خوندیتوب سره مخ دي خو ځمکې او تولیدي شتمنیو ته لاس رسی لري، د معیشت د خوندیتوب یو ځلي مرستې به ترلاسه کړي، تر څو چې په اړونده موسم کې یې معیشت له منځه لاړ نشي.

کلستر د بیړني معیشت د ملاتړ د کڅوړې سپارښتنه کوي چې به هغه کې بنسټیز حاصلات، شنه او د معیشت د خوندیتوب کڅوړه شامله وي تر څو چې نیالګیو، منرالي او نورو خوراکي توکه ته لاس رسی ښه شي او د حادې خوارځواکې څخه مخینوې وشي او په دې توګه د مړینې او ژوبلې د کچې په کمولو کې ونډه واخیستلای شي.

د کلستر د ټولیز ځواب په توګه، د خوړو د خوندیتوب او د کرهنې کلستر به په فعاله توګه اړونده کلیدې وزارتونو او سیمیز ریاستونو د بیړني چمتوالي په برخه کې دخیل کړي او د شریکانو دځواب وینې وړتیا به د احتیاطي پلان په جوړولو/نوې کولو، په مناسبه او غوره توګه د خوراکي توکو همغږې شوې ارزونې، د وړتیا پراختیا او په اغیزمنه توګه د ځواب وینې د پروګرام او موخو د ټاکلو لپاره د پایلو کارونه باندې کار وکړي.

## د اړو او په نښه شویو وګړو درجه بندي د عمر او جنس پر بنسټ

د غبرګون یا ځواب وینې تفصیلې پلان لپاره کولاې شئ چې د humanitarianresponse.info پاڼه وګورئ.

| | د حالت له مخې: د شخړو له امله بېځایه شوي | د شخړو له امله اغیزمن شوي روغتیا | د طبعي پیښو له امله اغیزمن شوي | عامه روغتیا په خطر کې | خوارځواکي او د خوراکي عدم خوندیتوب | پناه غوښتونکیاو خطرسره مخ راستنیدونکي | د جنس او عمر له مخې: ٪ ښځینه | ٪ ماشومان، ځوانان او مشران |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| په ۲۰۱۶ کې د مرستو غوښتنه | ۰.۳ میلیونه | – | ۰.۲ میلیونه | – | ۱.۰ میلیونه | ۰.۳ میلیونه | ٤٩٪ | ٥٨ \| ٣٦ \| ٦٪ |
| په نښه شوي وګړي | ۰.۳ میلیونه | – | ۰.۲ میلیونه | – | ۱.۰ میلیونه | ۰.۳ میلیونه | ٤٩٪ | ٥٨ \| ٣٦ \| ٦٪ |
| مالي غوښتنې | $٥٨.٧ | | | | | $٥١.٥ | | |

* ماشومان(تر ۱۸کلو کم عمر)، ځوانان (له ۱۸-۵۹ کلو) مشران له ۵۹ لوړ عمر لرونکي

## ورانده‌ول شوي اړ وګړي

۳,۲ میلیونه

## هغه وګړي چې مرسته به ورسره وشي:

۳,۲ میلیونه

## اړتیا

۴۰ میلیونه

## د روغتیا لومړنۍ موخه:

۱ د شخړو او طبعي پیښو له امله د اغیزمنو وګړو د ترضیضاتو د مراقبتونه ورانډي کول او د ډلیزي ژوبلو مدیریت

له‌دویمي‌اودریمي‌ستراتیژیکي‌موخي‌سره‌تړاولري

## د روغتیا دوهمه موخه:

۲ د هغه وګړو چې بېځایه شوي، پناه غوښتونکي، راستنیدونکي او هغه وګړي چې په سپینو سیمو کې چې شخړې هم رواني دي، اوسیږي، بیړنیو روغتیایي خدمتونو ته یې د لاس رسي باوري کول.

له دویمي ستراتیژیکي موخي سره تړاو لري

## د روغتیا دریمه موخه:

۳ هغه وګړو ته چې د عامه روغتیا د او طبعي پیښو له امله اغیزمن کیږي د ژوند ژغورنې بیړنې مرستې برابرې کړي.

له دریمي ستراتیژیکي موخي سره تړاو لري

## اړیکي:

ایمان شانکیتی د کلستر همغږی کوونکی

shankitii@who.int

# روغتیا

### تکلاره

د روغتیا کلستر به د شخړو او طبعي پیښو له امله اغیزمن شوېو ناریننوو، ښځو او ماشومانو ته، د ترضیضاتو مراقبت او د بنسټیزو روغتیایي خدمتونه په خپل وخت سره برابر کړي. بې ځایه شویو وګړو، پناه غوښتونکو، راستنیدونکو او هغه وګړو ته چې په (سپینه) د شخړو په سیمو کې اوسیږي، چې نه یواځې د اساسي (بنسټیزه) روغتیایي خدمتونو کڅورې (BPHS) د پوښښ لاندې نه دي، بلکې د روانو شخړو له امله نور هم زیانمنونکي دي. د ژوند ژغورنې مرستې به هغه وګړو ته هم برابرې شي چې د عامه روغتیا او طبعي پیښو د خطرونو له امله اغیزمن شوي دي، تر څو دا باوري شي چې هیڅ ډول ساري ناروغۍ په هغه سیمو کې را منځ ته نشي چې روغتیایي خدمتونه هلته شتون ونلري.

### لومړیتوبونه

د مخکښ لومړیتوب په توګه، کلستر به د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې په ټولو هغه وګړو تمرکز وکړي چې د شخړو له امله اغیزمن شوي دي. دغه وګړي او دې دوئ بیړني روغتیایي اړتیاوې په ګوته شوي دي او د ترضیضاتو د مرکز د لومړنیو روغتیایي ترضیضاتو د خدمتونو د پوستونو د تاسیس په ګډون او همدارنګه لومړنیو روغتیایي مراقبتونو او خدمتونو ته د لاس رسي باوري کولو سره به ددوئ روغتیایي اړتیاوې پوره شي.

په دغه پړاو کې، د روغتیایي کڅورو او توکو ځای په ځای کولو سربیره د عامه روغتیا د خطرونو کنټرول او مخنیوی شامل وي.

د ځواب ویني د دوهمي کرښي په توګه، کلستر به د پناه غوښتونکو، راستنیدونکو او بېځایه شویو وګړو په ګډون په هغه وګړو تمرکز وکړي چې د اساسي (بنسټیزه) روغتیایي خدمتونو کڅورې (BPHS) دخدمتونو د پوښښ لاندې نه دي ( چې د سپینو سیمو په نوم یادیږي) ترڅو چې اړینو روغتیایي خدمتونو ته یې لاس رسی باوري شي. اړینو خدمتونو کې چې باید ورته برابر شي د لومړنیو روغتیایي مراقبتونو خدمتونو او د عامه روغتیایي خطرونو یا ناروغیو د خپریدو ځواب وینه، د اسانتیاو په مرکز کې د مشورې په ګډون رواني-ټولنیزه لومړنۍ مرستې، او د جنسیت په بنسټ د تاوتریخوالي د قضیو مدیریت او درملنې شاملې دي.

د کلستر د بشپړو سرچینو د شتون په صورت کې، ځواب وینه به د هري نوي را منځ ته کیدونکي اړتیا او د لومړیتوبونو په نورو برخو کې وشي، د عامه روغتیا د پیښو چې د بیړنې کچې څخه لوړه شي د مدیریت په ګډون، او لومړنیو روغتیایي مراقبتونو خدمتونو ته د لاس رسي باوري کول چې ورته یې د فشار لاندې راغلي وي او د داخلي بېځایه شویو او راستنیدونکو تمرکز یکې ډیر لوړ وي، هم شامله وي.

## د اړو او په نښه شویو وګړو درجه بندي د عمر او جنس پر بنسټ

د غبرګون یا ځواب ویني تفصیلي پلان لپاره کولاي شئ چې د humanitarianresponse.info پاڼه وګورئ.

| | د حالت له مخې: د شخړو له امله بېځایه شوي | د شخړو له امله اغیزمن شوي روغتیا | د طبعي پیښو له امله اغیزمن شوي | عامه روغتیا په خطر کې | خوارځواکي او د خوراکي عدم خوندیتوب | پناه غوښتونکیاو خطرسره مخ راستنیدونکي | د جنس او عمر له مخې: ٪ ښځینه | ٪ ماشومان، ځوانان او مشران |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| په ۲۰۱۶ کی د مرستو غوښتنه | ۰.۳ میلیونه | ۱.۷ میلیونه | ۰.۲ میلیونه | ۰.۷ میلیونه | – | ۰.۳ میلیونه | ٤۹٪ | ۵۳ \| ٤۲ \| ۵٪ |
| په نښه شوي وګړي | ۰.۳ میلیونه | ۱.۷ میلیونه | ۰.۲ میلیونه | ۰.۷ میلیونه | – | ۰.۳ میلیونه | ٤۹٪ | ۵۳ \| ٤۲ \| ۵٪ |
| مالی غوښتنی | $۳۵.۳ | | | | | $٤.۳ | | |

* ماشومان(تر ۱۸کلو کم عمر)، ځوانان (له ۱۸-۵۹ کلو) مشران له ۵۹ لوړ عمر لرونکي

## وړاندوېل شوي اړ وګړي

۲,۹ میلیونه

## هغه وګړي چې مرسته به ورسره وشي:

۱,۱ میلیونه

## اړتیا

۶۳ میلیونه

## د تغذي لومړۍ موخه:

۱ د حادي خوارځواکي پېښې د حادي خوارځواکي د جامع مدیریت (IMAM) له لیارې د هلکانو، نجونو، امیندواره او شیدو ورکونکو میندو په منځ کې کمې شي

له خلورمې ستراتیژیکې موخې سره تړاو لري

## د تغذي دوهمه موخه:

۲ د ماشومانو د ځوانو د حادي خوارځواکي د مخنیوي لپاره د میزالي او ویتامیني کومکي خوراکي توکو ترویج

له خلورمې ستراتیژیکې موخې سره تړاو لري

## د تغذي درېمه موخه:

۳ د پروګرام د څارنې او په وخت د ځواب ویني لپاره د ټولنې او د تغذي د اسانتیاوو څخه د ښه کیفیت معلومات تر لاسه کول

له پینځمې ستراتیژیکې موخې سره تړاو لري

## اړیکي

لیو متونګا د کلستر همغږي کوونکی
Imatunga@unicef.org

# تغذي

### تکلاره

کلستر داسې تخمین کوي چې ۲.۹ میلیونه وګړي به اغیزمن شي، چې له دغه شمېرې څخه ۳۶۵.۰۰۰ یې په شدیدې حادي خوارځواکې او ۶۳۲.۰۰۰یې په منځنۍ حادي خوارځواکې اخته دي او د حادې خوارځوکې درملنې ته اړتیا لري. د تغذي کلستر به د ۰-۵۹ میاشتو عمر لرونکې هلکان او نجونې، امیندوارې، شیدې ورکونکې میندې او د زېږون عمر ښځې به په پلان کې ونیسي. د شریکانو وړتیا د کمښت له امله، د سرچینو او د لاس رسي د شتون په صورت کې د کلستر د ۲۰۱۶ کال ستراتیژۍ، به لومړی خپل خدمتونه ۳۶۹.۰۰۰ کټه اخیستونکو ته ( ۹۷.۰۰۰ شدید حادي خوارځواکې، ۱۵۶.۰۰ د منځنۍ حادي خوارځواکې د ۰-۵۹ میاشتو ماشومان او ۱۱۶.۰۰۰ شیدې ورکونکې او امیندوارو میندو ته) وغزوي. دغه فعالیتونه د اړتیا له مخې د بیړنیو اړتیاو د ځواب ویني او همدارنګه په افغانستان کې د حادي خوارځواکۍ د لاملونو د له منځه وړلو لپاره چې د ۲۰۱۳ کال د تغذي ملي سروې کې په ګوته شوي او همدارنګه د اوسنې پروګرام د نېګونې او تشې ډکولو لپاره پلان شوي دي. د کټه اخیستونکو پورتنیو کټګوریو ته به د پناه اخیستونکو او د داخلي بېځایه شویو وګړو په سیمو کې ددوی د ډېرې زیانمنې له امله ځانګړې پاملرنه وشي.

### لومړیتوبونه

د کلستر ستراتیژي داده چې په ټولو بیړنیو حالاتو کې چې په ۲۰۱۶ کال کې به را منځته شي، د تغذي مرستې د پناه غوښتونکو، راستنیدونکو او نوې بې ځایه شویو وګړو په ګډون، برابرې کړي. سربېره پردې په ۱۷ لومړیتوبونو ولایتونو کې چې د شدیدې حادي خوارځواکی کچه په کې له درې سلنې (د تغذي ملي سروې ۲۰۱۳) او هغه ولایتونه چې د خوراکي خوندیتوب د موسمي ارزونې (SFSA) کې په ګوته شوی دی چې شل سلنه وګړي یې خوراکي خوندیتوب نلري. په ټولیزه توګه د تغذي بشري ځواب وینه به د هیواد له ۳۴ ولایتونو څخه په ۲۲ ولایتونو کې وړکړل شي. پاتې نور ۱۲ ولایتونه چې د بشري غبرګون پلان کې نه دي شامل، د تغذي د فعالیتونو د پوښښ لاندې به راشي چې پرمختیایي فعالین به یې په مخ بوسي. د تغذي ځواب وینه به د اوسنیو روغتیایي اسانتیاو او ګرځنده روغتیایي او د تغذي ډلو له لورې اغیزمن وګړو ته چې روغتیایي اسانتیاوې هلته نشته برابرې کړي. د تغذي کلیدي فعالیتونو کې د خوارځواکې تشخیص او تفکیک، رجعت ورکول او تعقیب، دحادې خوارځواکې درملنه، د تغذي ارزونه او سرویلانس تر څو چې په وخت او ښه کیفیت او اسانتیاو له مخې د تغذي معلومات برابر شي او د پروګرام څارنه، د تغذي ارزونه او د نوي زېږیدلې او ماشوم د تغذي د ترویج پیغامونه او همدارنګه د ویتامینونو او منرالونو د تغذیې پوډر د ۶-۲۳ میاشتو ماشومانو ته د موخې په ټولو سیمو کې وړکړل شي. د حکومت او د شریکانو د ښه ځواب ویني او د پروګرام د کیفیت په لوړولو کې وړتیا لوړه شي. کلستر له حکومت، د BPHS له شریکانو او بسپنه ورکونکو سره خبرې کړې دي تر څو ډا باوري شي چې د تغذیې خدمتونه باید د BPHS د ترونونو نه بیلیدونکې برخه شي. د تغذي کلستر دا مني چې د شریکانو په منځ کې تخنیکي وړتیا د کارکونکو د بدلون له امله یوه تشه ده او د وړتیا لوړولو هڅو ته به دوام ورکړي تر څو چې د شریکانو تخنیکي وړتیا لوړه کړي.

